خبروي او د تل لپاره بیاد پتالوجست معاینه کلینیکي داکتران او نور لابراتواري معلومات په کافي اندازه معلومات دیو کانسر ناورغ په هکله راټول کړي دبایوپسي ساحه او پارچی په زیرکانه ډول تعین شي ترڅو چی پتالوجست ته ددی موقع ورکړل شي چی یو واضح او تعیني تشخیص وضع او کلنیشن دتداوي او انزار په هکله لازښوونه وکړای شي دکانسر بیالوژیکي خواص دهغی فارمولوجیکي نورمو سره اړه نیسي دمثال په ډول د یو خبیثه تمور په Pushing edge غاړه دامعنی ورکوي چی مرض لږ انتشار لري او ناورغ ژر نه وژني حال داچی دعین کانسر هغه متظره چی غیر منظم او ترشح غاړه لري په زیات خباثت دلالت کوي او همدارنګه د یو تمور په حجراتو د زیاتو لمفوسیت اویا پلازما سیل حجراتو موجودیت د ښه انزار ننبه او ننبانه ده او همدارنګه هستوسایت دلمفاوي عقداتو په سینوزوئید ناحیه کې هم د ناروغی دښه سیر زیری ورکوي. ټول دغه علایم دعضویت دمعافیتي میکانیزم د پیاوړي توب پشنهاد کولای شي دمعافیتي میکانیزم مقاومت د کانسري ناروغیو دکنترول په هکله په ډیرو موسسو کې تر څیرنی لاندی دی.

دسلیم او خبیث تومورونو تفریقي تشخیص د طبیعي، خاصیت او ظاهري ساختمان په لحاظ په Tab I کې ښودل شویدی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیوپلازم انتشار او پراخ کیدل

A: سلیم نشوونما

۱- معمولا یواځی دپراختیاء او وسعت په لحاظ غتیږي او په خپله مجاوره انساجو کې اتروفي مینځ ته راوړي.

۲- کوم کپسو نه لري لکه (فیبروزس ، Pseudosarcomatous, Facilitis

B: Cancerous نشوونما

په اساسي ډول متهاجم او یرغل کوي او پرته له پراختیاء او وسعت څخه ډیره په ابتدایي مرحله کې کولای شي چې میتاستاز ورکړي د پراختیاء عمق ډیر زیات اهمیت لري.

a: د نشوونما اندازه دومره زیاته وخیمه علامه نه ده چې په دې شرط چې تمور دکانسر د غتیدلو لپاره حجرات برابر نه کړي د موضعي فشار زیاتوالی دوران ته شاید دځینی کانسري حجراتو لاړه اواره کړي.

b: ځینی کانسري حجرات متحرک هم وي لیکن داضروري نه ده چې دغه خاصیت دتهاجم لامل وګرځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

c: Loss of Cohesiveness

کانسري حجرات لږ کلسیم ایون لري اوزیات الکتریک چارج دخپل ممبران له پاسه لري او په ډیره اسانی سره دنورمال حجری څخه بیلیري (دکانسر حجراتو دکلسیم کموالی په دې تازه وختو کې دفشار له خوا چلینج ورکول شویدی)

d: Loss of "Growth restracint" داحاطه شوو انساجو دتمور او استروما په منځ کې د اړیکو پیژندل ډیر مهم او اساسي کار دی او په دغه هکله زیاتو معلوماتو ته ضرورت دی.

e: دکانسر دتهاجم په باره کې دیو Dormant موادو څیړنه هم زیات اهمیت لري او په کانسري واقعاتو کې د هیالوروینداز، پروتیاز امینو پیپتیداز لیدل شویدي.

۲- Permeation : داوعیو لومینار ته خصوصاء (وریدونه) او لمفاوي اوعیی ته تهاجم دکانسر دنشونما په تصنیف چی داوعیو د جدار ته نژدی صورت نیسي مینځ ته راځي.

۳- میتاستاز او دکانسر نشوونما د خپلی ابتدایي ناحیی څخه تفریق کیدای شي اساسي او مهمه کلمه نشوونما ده په دروان کې د کانسري حجراتو موجودیت یوازی یوازی په میتاستاز دلالت نه کوي.

کانسري حجرات په Dormant مرحله کې تر ډیرو کلونو پوری ژوندی پاتی کیدلای شي دکانسر نشوونما دیومناسب داخلي محیط او مطلوب Soil پورې اړه لري.

C: دمیتاستاز د جوړیدلو مرحلی (په اول شکل کې یې وګوری)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- ابتدايي تمور د منبع په ډول:

دميکروانجيوګرافيک، هستوپتالوجيک د مطالعاتو د ارتباط له مخی دتمورونو دعادي ساختمانو نه ديو ثانوي نيوپلازيا په ډول نشوونما کوي دغه اوعيی د ترتيب له مخی غير منظم او شکل يې نامکمل دی او ځينی تموري حجرات د شعريه اوعيو اوستيوزيدل دجدار په امتداد ليدل کيږي اوځينی وخت کيدای شي چی يو واز دوران دهډوکي دمخ په څير مينځ ته راوړي.

۲- دوراني کانسري حجرات

يوشمير مطالعاتو داخبره ښکاره کړيده چی په دوران کې کانسري حجرات په زياته پيمانه سيستميک په وريدي وينه کې ليدل کيږي اوحتی په زياته اندازه ناحيوي وريدونو کې خصوصاء وروسته دجراحي عملیی څخه ليدل کيږي ليکن تراوسه ددغه حجراتو او بعدي تمور د ميتاستاز او يا دناروغ ژوندی پاتی کيدلو په باره کې په لاس کې نشته.

۳-امبوليزيشن او ترومبوزس

دکانسري حجراتو تجمع په ميکروسرکوليشن د نورو انساجو اويا په احشاو کې په ښکاره ډول د امبوليزيشن ته ډير ورته دي کوم چی دغه حجرات د فبريني اليافو سره مخلوط دي انتي کواګولانت مواد په تجربوي ډول په ټولو سيستمونو کې دميتاستاز مخنيوی کولای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- دمیتاستاز نظریه

a: میکانیکل تیوري

میتاستاز دکانسري حجراتو مستقیم وظیفه ده چی یوشمیر خبیثه حجرات دوران ته داخلیږي دهضمي جهاز کانسر تر ټولو ړومبی ځیګر ته میتاستاز ورکوي ځکه چی ددغه جهاز وینه د ورید باب له لاری ځیګر ته نتوځي او میکانیکي فکتورونه ترانس کپیلري پساز، فلتریشن او دکانسري حجراتو حساسیت څخه عبارت دی د اوعیه قطر، موقعیت او تقسیمات، دمیتاستاز ډیر لوی فکتورونه ګڼل کیږي.

b: انتخابي Affinity تیوري

په خپله محیط دناحیه نظر تخم ډیر رول لوبوي یعنی ځینی احشاء دکانسرو نشوونما مهمترین محیط دی نظر د تمورته Wilm's تمور ډیر ژر په سږو کې تخم ګذاري کولای شي او نیوروبلستوما د هډوکي په مخ کې او همدارنګه کولای شو چی حجرات په زیاته اندازه چې دمیتاپولایت له نظره ډډره غنی دی د اسکلیت د عضلاتو څخه لاس ته راوړو. او دغه عضلات کانسري حجراتو ته په کمه اندازه دمیتاستاز اجازه ورکوي چی دهغی علت تر اوسه معلوم نه دی.

C: ترانسفرمیشن تیوري

د DNA جینوم دمیزبان حجری ته داخلیږي اودغه نورمال حجره په کانسري حجری بدلوي دانظریه ډیر لږ قبوله شویده شاید چی معافیتي (امیون) فکتور دلته زیات رول ولوبوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- دشعریه اوعیو دجدار سوري کیدل:

a: دکانسري حجراتو Diapedesis دلکوسیت حجراتو له لاری د شعریه اوعیو جدار ته په ډیر ښه ډول Summer wood له خوا د Cinephotomicroscopy چی دسوی دغوږ په چمبر کې ښودل شویدی او شاید ځینی Lytic مواد دځینی کانسري حجراتو د افراز له لاری ددغه عمل مهم فکتور وي.

b: د شعریه اوعیو په داخل کې دکانسري حجراتو نشونما شاید اوعیو التصاق سبب شي.

۲- دمیکروسرکولیشن اندکشن (شروع):

کله چی کانسري حجرات دبلی عضوي اویا انساجو ستروما ته داخل شي داحجره دخپل ځان لپاره ځانګړی اوعیو ساختمان پیداکوي (شاید چی دیو Lytic مواد د افراز له لاری) چی په ثانوي ډول دهماغی حجری دنشونما زمینه برابره کړي.

IV: هغه فکتورونه چی دمیتاستاز نشوونما متاثره کوي:

په تجربوي ډول ثابت شویدی

۱-موضعي میخانیکي جروحات دمیتاستاز د پرمختګ لامل ګرځي.

۲- انتي کواګولانت (لکه هیپارین) دمیتاستاز د پرمختګ مخنیوی کوي.

کانسري حجرات د میزوتلیل خط په امتداد میتاستاز ورکوي لیکن کله کله دمجروحه ناحیی له لاری هم میتاستاز ورکولای شي. کانسري حجرات ندرتا داپیتیلیل خط په امتداد هم میتاستاز ورکوي (لکه دهضمي جهاز او حالب)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

متعدده تومورونه چی دیورونپلویم له پاسه لیدل کیږي داپنیشل جدار له پاسه دتموري حجراتو دعمومي تاثیر له کبله مینځ ته راځي او هغه کارسینوما دعملیاتي ناحیی په خیاطه کې لیدل کیږي دکانسري حجراتو بندش د فبريني اليافو له خوا نتیجه ده چی دهماغی ناحیی په ساحه کې د شعریه اوعیو دزیات پیدایښت له کبله د په وخت کې مینځ ته راځي.

کله چې میتاستاز پیداشو ډیر موضعي او سیستمیک فکتورونه د هغه نشوونما باندی تاثیر کوي. په انسانانو کې دتمور مستقیم غرس ناممکن دی. لیکن شاید مشابه فکتورونه د حیواناتو په څیر تاثیر ولري. (دوهم شکل وګوری)

دتمورونو تصنیف بندي (چی د Florey له خوا مودیفای شویده). (زیات تشریحات په علیحده مبحث کې ولولی).

دلته دغه لاندني تصنیف بندي شویده:

۱- هیتوجنسریشن : دحجراتو جنس او اولیه انساج

۲- بیالوجیک خاصیت : سلیم او خبیث

۳- دحجراتو تشخیصیه اندازه Poorly, partly, well

۴- اناتومیک ناحیه چی عضو یا ساحه

۵- دتومورونو اضافي وظیفه Psammomatous, Paplillary

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ځینـی تمورونـه لاهـم ډیـر بنـه Eponymically تصـنیف شـویدي لکـه د Evings, B renners، Sarcoma, Hodgkin disease, تمور.

د Dysplasia تعریف

دیس پلازیا په عمومي ډول د حجراتو او انساجو دحجراتو د ساختمان تشوش ته وایي که څه هم په ساده تعریف کې د حجراتو تشوش دی لیکن دپرکتس له نظره په عمومي ډول د حجراتو نشوونما ته وایي. انساج په عمومي او متداوم ډول د حجراتو زیاتیدل تشخیص کیدل، جوړښت او مرګ سره مخامخ دي (اپي درمیس او میکوزول سطحی اکثرا همدغه ناحیی د Dysplasia ساحی دي. همدارنګه دیس پلازیا عموما په مزمن التهابي افاتو او ارتشاحي ناروغی کې هم لیدل کیږي او اکثرا دغه وتیره د ډیرو تمورونو د نشوونما او پیدا ایښت په څیر مینځ ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Appearance	Benign	Malignant
۱. Structure and differentiation	Typical of tissue or origin as cells as tissue	Atypical cells as tissue
۲. Rate of growth	Usually slow	May be rapid
۳. Progrestion	Slowly progressive (my remain stationary)	Usually progressive and usually fatal if untreated
۴.Mode of growth	Expansive (Usually poorly encapsulate)	Infiltrative as well as expansive (often encapsulate)
۵. Metastasis	Absent	Common present
۶. Recurrence after simple removal	Rare	Common
۷. Vascularity	slight	Moderate or morked
۸. Necrosis and ulceration	usual	Common
۹.Constitutional Effect	Un common Except endocrine	Common
۱۰. Cytologic A. Nuclear cytoplasmic ratio b. Nucleolar nucleare ratio c. Nuclear staining d. Cytoplasmic staining e. Number of mitosis f. Type of mitosis	 Normal Normal Normal Normal Usually few Normal	 Increased Increased Increased Increased Often frequent Frequently abnormal
۱۱. Ultra structure a. Nuclear membrane b. Mitochondaria c. Endoplasmic reticulum d. Cytoplasm e.Golgy apparatus f. Cell membrane		 Frequently irregular Decreased in number (often simple) Diminished and generally smoth RNA particles often free from ER and scattered Ofter inclusions of unknown composition My be diminished or increased Often made up by microvesicle Often simplified (Desmosomes often lacking in carcinomas)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکانسر جراحي تدابير او اهتمامات

۱- Prespective

جراحي اهتمامات د هر دريو کانسري واقعاتو څخه يو علاج کولای شي. په يقيني ډول جراحي عمليات اساساتو هغه کانسر چی سليم او موضعي شکل ولري او دجراحی کولای شي چی ټولی کانسري حجری له ناحيی څخه وباسي.

دغه يو قبول شوی لارښود دی که چيری ناروغ ژر تشخيص شوی وي نو ويلای شو چی دهريو دری کانسري واقعاتو څخه دوه واقعی د جراحي پواسطه تداوي کيدای شي.

که چيری د جراحي عمليات دامکان څخه ليری وي نو جراحي يوائی Palliate تداوي ده چی دناروغ اعراض او نور هغه اختلاطات چی دمرګ ډار پيدا کوي مخنيوی وکړي. دانسداد د منځه وړل دهيموراژ بندول او د دردکراريدل او فنګسي بوی ناکه تمورايستل ټول داسی اقدامات دي چی يوائی ناروغ د ارامي سبب ګرځي. داډول اقدامات دناروغ دعمر داوږدوالي او دوباره د ژوند زيری ورکوي.

دکيموتراپي اورادیوتراپي دمينځ ته راتلو له کبله برسيره د جراحي په عملياتو دکانسر دتداوي په هکله د غور وړ بدلون راپيداشوی دی او د دغه ميتودونه دراتګ له کبله هغه نا اميدکوونکی تمورونه چې دعلاج وړنه وه اوس بهبودي اودناروغ دعمر داوږدوالي هيله شته کوي دمثال په ډول د Wilims تمور جراحي عمليات، تشعشع او Actinomycin او Adramycin همدارنګه دثديه کارسينوما کيموتراپي هورمونل او تشعشع او جراحي مرستيال لاری چاری دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

II : دکانسر دپراختیا فکتورونه اودهغی کلینیکي خواص:

A: لمفاتیک خپریدنه

دکانسر د انتشار لمرنی لار موضعي لمفاتیک سیستم دی د مثال په ډول د ثدی کانسر دټولو رومبی په اساسي ډول د تخرګو او تحت الترقوي وریدونو ته ننوځي. دثدی دکانسر په کلاسیکی سستیکتومي اودموضعي لمفاوي عقداتو ایستل دي او دهغی سره یوځای دتمور سالم نسج د جدار پوری ایستل کیږي.

دثدی دلمفاتیک سیستم درناژ لپاره بله لاره هم شته لیکن دکلینیکي ازموینو له مخی داسی ښودل شویده چی دغه لار د ثدی دکانسر په انتشار کې دومره رول نه لري. پد ی شرط چی هماغی اولنی لمفاتیک سیستم دتمور له کبله بندش نه وي پیداکړی. لیکن په دې باید پوه شو چی دلمفاتیک سیستم تداوي کول په مستقیم ډول د سینی د جدار په اوږدوالی اویا د دیافراګم له لاری ځیګر ته نه اجراکیږي.

لیکن یوه استثناء هم شته او هغه داچی داخلي ثدیوي لمفاوي عقدات چی دابتدایي لمفاتیک سیستم رول لري او دثدی د نیمایي داخلي لمف هلته توئیږي کولای شو چی یا وایستل شي اویادشعاعي تداوي پواسطه تداوي کړو دثدی په کانسر کې که چیری دمیتاستاز شک هم موجود نه وي بیا هم دتخرګو لمفاوي عقدات په ۳۵-۴۰% واقعاتو کې دکانسر لپاره میکروسکوپیک ساحه ګڼل کیږي.

B: Venous spread (**وریدي انتشار**)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینی تمورونه لکه سرکوما په وصفي ډول د هیماتوجنسیس لاری نظر لمفاتیک سیستم ته انتشار کوي کله چې یو تمور د وریدي لاری انتشار وکړي دغه تمور نظر لمفاتیک سیستم ته ډیر خطرناک دی دتمورونو امبولي د لمفاوي عقداتو پواسطه کم کیږي مخکی له دې چې دسږو اویا نورو لیری اعضاو ته ورسیږي او دغه وتیره دکانسر د علاج لپاره ښه چانس بلل کیږي او همدارنګه کله چی دتمور امبولی دوینی دوران ته داخل شوه چې دامعمولاسږو، ځیګر او نورو اعضاو ته پراختیا مومي او په خپله امبولی د ثانوي نشوونما لامل ګرځي اودغه حالت تمور علاج دستونځوسره مخامخ شي په ډیرو سرکوما کې د لمفاتیک لاری دتمور انتشار نادر دی ترڅو چې په څرګند ډول دیوی لمفاوي عقدی غټوالي ونه لیدل شي.

که چیری لمفاوي عقده غټه شوی وي ایستل کیدل یې اړین دی اوکه چیری انالیزسس دمیکروسکوپیک انالیزیسس پواسطه وښودل شي چی تمور د وریدونو له لاری انتشار کړیدی دناروغ علاج خطرناکه لیکن ناامیدکوونکی نه دی.

د Fisher اوسنی تجاربو په حیواناتو کې ښکاره کړیده چی دتمور لمفاتیک انتشار او وریدي انتشار یو تربله سره اړیکی لري ځکه چی د لمفاوي عقداتو له لارې دوینی وریدي جریان ته داخلیدای شي داچی تمور دهری لاری انتشار کړی وي خو دلمفاتیک انتشار اثبات د کلینیکي له نظره دتداوي دپلان لپاره ښه لارښوونکی بیلیږي.

C: په درون کې دکانسري حجراتو اهمیت او ارزښت

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لمړی وختو کې داسی فکر کیده چی محیطي دوران کې د کانسري حجراتو شتون په ډیر خراب انزارو دلالت کوي. د Enell's کارونو داخبره څرګنده کړه چی که څه هم د کانسري واقعاتو په نیمایي پیښو کې په دوران کې کانسري حجرات موندلای شو خو بیا هم داټول رنځوران په زیاته فیصدي تر پنځو کالو پوری ژوندی پاتی کیدای شي پرته له دی چی دمیتاستاز شواهد ښکاره کړي له دی خبری داسی معلومیږي چی دورانې کانسري حجرات د میتاستاز لپاره کم مسولیت په غاړه لري او په خپله د ناروغ د عضویت مقاومت میتاستاز په شاتمبولای شي لیکن دکانسري واقعاتو په پرمخ تللي مرحله کې دغه دفاعي میکانیزم دخرابي سره مخامخ کیږي.

D: ایا دتمور مساژ اود الاتو استعمالول دمیتاستاز دواقعاتو دپرمختګ او بالاخره د مرګلامل ګرځي.

په حیواناتو کې دتمورونو مساژ په دوران کې دکانسري حجراتو دزیات والي لامل ګرځي. یو څو کلینیکي حادثاتو هم داخبره تائید کړیده په تجربوي ډول داخبره څرګنده شویده چی دجراحي تروما دناورغ د عضویت مقاومت کموي اودمیتاستاز لپاره لاره برابریږي کله چې دناروغ ځیګر سالم وي دتمور دانجکشن په وخت کې میتاستاز ډیر کم اویا هیڅ نه وي.

خو تر ټولو ښه خبره داده چی دتمور دتماس اوله استعمال او مساژ څخه ډډه وشي که چیری په پراخه ډول دتمور مساژ ترسره شي دناروغ دژوند معیاد کمیږي سره له دی چی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ دی خبری ته پاس اشاره وکړه چی په دوران کې دتموري حجراتو شتوالی دژوندانه دمعیار سره هیڅ نیغ په نیغ اړیکی نه لري.

دتمور انتشار او وخت تر مینځ اړیکی

ډیر زیات متخصصین په دې عقیده دي که چیری یو تمور په مقدم ډول تشخیص شي دهغی دعلاج چانس ډیر زیات دی د رحم دعنق دکانسر په Insitu مرحله کې ۱۰۰% دعلاج وړ دی حال داچی په پرمخ تللی مرحله کې دا ناروغی یواځی ۱۵-۲۰% واقعاتو کې علاج کیدای شي اوداخبره په څرګند ډول د وخت د Passage پوری اړه لري او وایي چی ژر تشخیص غوره علاج دی همدارنګه دماشومتوب تمورونه دوخت په تیریدو سره دبشپړ علاج دمرحلی څخه ووځي.

ددغه عمومي نظریاتو په هکله ځینی سوالونه هم شته کله Colon (I) او د ثدی دکانسر په هکله داسی ویل کیږي.

۱- دتمور غټوالی په خراب انزار دلالت کوي.

۲- دزیاتو لمفاوي عقداتو اخته کیدل هم خراب انزار لري.

دغه پورتنی دواړه فکتورونه دوخت د Passage پورې اړه لري نودمقدم تشخیص لپاره (پاپ سمیر Pap smear ، Monography ، Xerpgraphy سګموئیدوسکوپي او نور روتین معاینات غوره ګام وی)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

III: دکانسر تشخیص

A: په وګړو کې دکانسر پلټنه (Asymptomatic Patient) :

په وګړه ایزه توګه دکانسر پلټنه مطلوب کار دی. لیکن په عملی توګه په دی هکله کوم خاص پروګرام نشته. که څه هم په وګړو کې دشکمنو واقعاتو په هکله ګام اخیستل شویدی. خو بیا هم لکه چی ومووېل چی مقدم تشخیص غوره ګام دی نو باید ددی مقصد لپاره ډیر مطلوب پروګرام جوړ شي چی داکار په اقتصادي لحاظ ارزانه او دتداوي لپاره ښه ګټوره لار ده اوداکار د هغه ګروپ ناروغانو مقدم پیژندل دی چی دخطر سره مخامخ وي او برسیره پردی دهغوی د یوی ارزانه لاری تاکل وي چې هر (۳-۵) کاله په انتروال کې ترسره کیږي.

B: دهغه ناروغانو تشخیص چی اعراض او علامی لري

په عمومي ډول دتشخیص یقیني میتود دهستولوژي معاینه ده خو بیا هم یو ماهر داکتر کولای شي چی د ګردش ازموینی دناروغی رښتینی تشخیص ترسره کړي لیکن دمرض د پوره تداوي لپاره ترڅو چی هستولوژیک معاینات نه وي شوي باید تر اجرالاندی ونه نیول شي او خصوصاء دی کار ته تر هغه وخت پاملرنه په کار ده چی دکانسر دمیتاستاز ویره په مینځ کې وي یو ذکي داکتر باید متکرر بایوپسي، پاپ سمیر اجراکړي خصوصا که چیرې دکارسینوما خواته فکر وشي اوافت په زړو خلکو کې موجود وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C : **دتشخیص میتودونه :**

Excision biopsy

یوه وړوکي تموري افت کې داډول عملیه هم دتشخیص اوهم دعلاج لپاره ترسره کیږي خصوصا که چیری داتمور د جلد اویا تحت الجلدي انساجو پوری اړه ولري که چیری دپراخه شق لپاره ضرورت موجود وي ناروغ باید ددی عملی څخه ړومبی خبر کړای شي.

۲ : Incisional biopsy

که چیری پورتنی عملیه کوم ستونځه مینځ ته راوړي اویا داچی ګرانه وي اویا اکسریز تراپي دناروغ دعلاج لپاره غوره تداوي وي نو د Incisional biopsy اجراء کول غوره کار دی.

۳- Needle Biopsy

داډول بایوپسي دهغه ناروغ لپاره اجراکیږي چی دهغه خبیث افت دعلاج وړ نه وي کله داسی هم کیږي چی اخیستل شوی پارچه دتشخیص لپاره کافي نه وي اودتمور تشخیص دغلطي سره مخامخ شي دکبد تمور اودهډوکي مخ دستنی دبایوپسي لپاره غوره ځایونه دي خو سره له دی چی لمف نود ، سږي، هډوکي، ثدیه ته هم رسیدای شي.

۴- Exfoliatvie cytology

پاپ سمیر Pap smear درحم دعنق دکانسر د تشخیص لپاره او Insitu کارسینوما لپاره غوره عملیه ده دا عملیه نن ورځ دسږو، خولی، خبیثه ایفیوژن دثدی افرازات اوحتی کله کله د مری په کانسر معده اود کولون په کانسر کې ورځ په ورځ زیات استعمالیږي او خپل اهمیت زیاتوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: دجراحي ميتود دتشخيص پاملرنه

داوعيی خبيثی تمورونه لکه سرکوما شايد د Incisional بايوپسي وخت کې شديد نزف ورکړي جراح بايد په عاجل ډول د نزف دمخنيوي لپاره په لوی عمليات لاس پوری کړي په شديد خبيثه تمورونو کې د Incisional بايوپسي عمليه دکانسري حجراتو دپراختيا له املـه مضـاد استطباب او په دی ډله کې د پانقراس، سږو کارسينوما او ميلانوما شامل دی.

IV : هغه فکتورونه چې دتداوي په پريکړه اغيزه کوي:

A: داسوال بايد وشي چی ايا دعلاج چانس شته او که نه؟ داکتر بايد پوه وي چی دنادر علاج لپاره وړوکی چانس شته اويا دعلاج وړ نه دی که چيری د علاج لپاره چانس موجود وي داکتر بايد دهغی څخه منکر نه شي.

۱- ايالیری ميتاستاز يې ورکړيدی؟

يواځينی قبول شوی معذرت چی دعملياتو مخ يې نيولی دی دتمور ليری ميتاستاز دی (Distant metastases" مثلاء دسږو په کانسر کې د Scalene لمفاوي عقداتو مثبته بايوپسي دعمليات وړ نه بلل کيږي همدارنګه دقص د هډوکي اود حرفقی هډوکي د Crist مثبته بايوپسي هم ناعلاج ناروغی بلل کيږي.

۲- ايا د نااعلاج توب لپاره کوم موضعي شواهد شته؟

برسيره په ليری ميتاستاز موضعي خواص هم شته چې ناروغ دانزار له پاره ډير بآوري دی دمثال په توګه د سږو په کانسر کې د پلورايي انصباب شتوالی د ناعلاج توب ښښه ده

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبلی خوامحیطي تموري التصاق چی دجداري پلورا سره یې لري چې دی ته a"grave sign" هم وایي شاید دهمدی التصاقي پلوراء او سږي ایستل دعلاج لپاره لږه لاره پرانیزي.

B: Curative treatment کوم میتود بهتر ده؟

دناروغی په شروع او مناسب وخت کې بایددا پریکړه وشي چې ایا ناروغ دتداوي چانس لري او که نه؟ وروسته له هغی دنورو معلوماتو راټولول ضروري دي دپرمختللي ناروغی لپاره داخبره باید څرګنده شي چې جراحي تداوي اویا رادیوتراپي څخه کار واخیستل شي ددی مقصد لپاره تموري حالت، پخوانی تجارب او دتداوي زیات معلومات ښه لاربښوونه کولای شي.په ځینو ناروغانو کې د جراحي او X-ray تداوي برابره نتیجه ورکړیده ځینی اضافي فکتورونه لکه Cosmetic ، اقتصادي، اجتماعي او روحي زمونږ د تداوي په اخرنی فیصله اغیزناکه رول لوبولای شي.

کله کله په ځینی ناروغانو کې جراحي تداوي په زړه پوری اقدام دی خو په دی شرط چی رنځور دناروغی دعلاج ناخوالی وزغملای شي.

نادرا ځینی ناروغان دتداوي مطلوب پیشنهادونه ردوي نو ښه به داوي چی دا ډول رنځوران په بله الترناتیف میتود تداوي شي.

۱- Curative surgery

په علاج پذیر کانسر کې یعنی که چیری کانسر موضعي وي او مجاور لمفونود باندی یې برید نه وي کړی دجراحي عملیه غوره تداوي ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله ۸۰-۸۵ % دتداوي نتيجه ښه ښودلی ده که چيری يو تمور په احتمالي ډول شکمن خباثت ښکاره کړي دجراحي عملي په وخت کې بايد په لږه اندازه نورمال نسج هم وايستل شي.

Common cancers in surgery is curative

١. All GI cancer – Lower Esophagus, Stomach , Biliary system, Large and small bowel (Pancrease)
٢. Bone
٣. Breast
۴. Eye
۵. Genitalia
۶. Endometrium
٧. in situ carcinoma of cervix
٨. Larynx
٩. Lungs
١٠. Melanomas
١١. Most head and neck cancers with cervical metastasis or evidence of radioresistance
١٢. Most skin cancers
١٣. Ovary
١۴. Renal Cancer
١۵. Salivary Gland
١۶. Sarcomas
١٧. Some tumors of the brain
١٨. Thyroid

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

درخوه اجسامو په تومورو کې لکه تائیروئید ، پاروئید کې داستعمال وړ ده همدارنګه په اپي تلیل کارسینوما کې په پراخه اندازه د نورمال نسج ایستل توصیه کیږي. دمعدی، مری او مثانی په کانسر په پراخه اندازه دمخاطي غشا اشغال مینځ ته راځي نو تر هغه پوری Frozen اجرا کیږي چې نورمال نسج ښکاره شي نو دلته باید تر هماغه ځای Resection اجراء شي.

لیکن د رخوه اعضاو په سرکوما کې ۲۵ - ۵۰% پوری غلطي مینځ ته راځي ځکه داډول تمور زیات عمومیت نه لري او د ګروس له نظره سلیم معلومیږي. اکثراء داتمور Enucleated کیږي او رنځور ته ډاډګیرنه ورکوي او دسیتالوژي د راپور ته انتظار وباسو. په دی ناروغانو کې X-Ray تداوي کومه ګټه نه لري خو کله چې سرکوما ثابته شوه دتمور ایستل غوره تداوي ده.

a: موضعي Excision

ځینی کانسرونه چې کمه اندازه خباثت لري په دې میتود سره تداوي کیږي ځکه داکانسر ناردا مجاور لمفوي عقداتو ته برید کوي داتمورونه عبارت دي له : Small cell ، Basal cell carcinoma, Adamantinomas

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

b: Block dissection

هغه تومورنه چی مجاور لمفاوي عقداتو ته انتشار کړي وی ددی میتود پواسطه تداوي کیږي ځینی دهمغو لمفاوي عقداتو څخه عملیه شروع کوي اودابتدایي تمور خواته راځي. داډول عملیه د ثدی، معدی، امعا میلانوما او ځینی دخولی په کانسرونو کې داجرا وړ ده. لیکن د شوندو په کارسینوما کې چی لمفاوي عقدات نه غټیږي او میتاستاز هم نادر دی کله کله پورتنی عملیه اجراء کیدای شي که چیری څومودہ وروسته رقبي لمفاوي عقدات په کانسر اخته شي د غاړی Dissection دعلاج غوره دایمي لار ده.

که چیری لمفاوي عقدات ونه ایستل شي دجراح مسولیت زیاتیږي او ناروغ باید دتل لپاره دخپلی مشاهدی لاندی ځارنه وکړي.

C: دمیتاستاز Resection :

دیوځانګړي میتاستاز Resection په حیرانوونکي ډول دعلاج فیصدي پورته وړي. دمثال په ډول د سږو دکانسر د ځانګړي میتاستاز غوڅول تقریباء په ۴۰% واقعاتو کې دپنځو کالو د ژوند هیله زیاتوي او دا نتیجه دسږو دابتدایي کانسر ایستلو څخه ډیره ښه ده همدا عملیه د امعاء، پښتورګو او تائیروئید په کانسر کې هم ښه نتیجه ورکولای شي. لیکن ددی لپاره چی داخبره ښکاره کړو چی یواځی ځانګړی میتاستاز موجود دی باید د Scalene بایوپسي او B.M معاینه اجراء شي. برسیره پردی Liver Scan او حتی لاپراتومي استطباب لري چی داکار کبد د میتاستاز او دداخل البطیني میتاستاز شک له مینځه وړي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

d: دجراحي Excision پواسطه دکانسروقایه :

داعملیه په معایي پولیپونو دمخ Kerateses دمخاطي غشا لوکوپلاکیا په قرحاتو کې داجراء وړ ده. ځکه دا پورتنی افات په زیاته پیمانه دخباثت خواته میلان لري.

دطفولیت دوخت سنتي د قضیب دکانسر او رحم اودکارسینوما مخینوی کولای شي.

e: دجراحي خصوصي تکنیک

په موضعي ډول دکیموتراپي انفیوژن هیڅکله سفلي اطراف په میلانوما او ځینی سرکوما اود سر او غاړې په کانسر کې دومره ګټور نه تمامیږي. لیکن په ځینو پیښو کې دامیتود ګټه لري په ځانګړي پیښو کې خصوصي جراحي تکنیک کله د Mohs میتود دمهم نواحیی په محافظوي تداوي کې ښه تاثیر لري. نوی تکنیک چی د Cryotherapy په نوم یادیږي په تازه ډول دبولي تناسلي جهاز او مرکزي عصبي سیستم په کانسرونو کې دښه والي امید مینځ ته راوړي.

Cautery په حیرانوونکي ډول درکتم په کارسینوما کې تر ډیره وخت پوری ښه والی پیداکوي لیکن دنورو کانسرونو په تداوي کې داتکتیک دومره زیات رول نه لري.

۲- Curative radiotherapy

په ۱۷ فصل کې داخبره په مفصل ډول ښکاره شویده چې څه وخت رادیوتراپي علاج کوونکی تاثیر لري خودلته دومره ویل کیږي چې د ناعلاج کانسر اودهغه کانسر چی ژر عود کوي د رادیوتراپي رول لري داډول پیښی دټول کانسرونو نیمایي پیښی په کې شامل دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- Curative chemotherapy

داډول تداوي لاتراوسه هم د ځینو تمورونو په تداوي کې محدود رول لري لکه Burkitt's لمفوما، Chorio Carcinomo, Wilm's tumor او نور خو سره له دی شاید په راتلونکي وخت کې دتداوي دامیتود دښه والي هیله پیداکړی.

۴- دکانسر په تداوي کې د جراحي او ریډیشن ګډون:

دتداوي ګډون (کیوراتیف او پالیاتیف) ډیره ګټوره ده او دهغی استعمال ورځ په ورځ زیاتیدونکی طرفداران لري.

دهری ځانګی دمختلفو متخصیصینو په مینځ کې نژدی همکاري او کانسولتیشن ډیر زیات اهمیت لري ترڅو چې دتداوي په هکله شک له مینځه یوړل شي او کیدای شي چی یو ډاکتر د نوور په مشوره دناروغ دتداوي لارښوونه په غاړه واخلي او ناروغ خپل معالج داکتر وپیژني دکانسر په تداوي کې دناروغ او داکتر تر مینځ اړیکی دزیاتی پاملرنی وړ دی اوداباید Jeopard zed نه شي.

C: Palliative treatment

۱- دا تداوي په عمومي ډول په دریو ګروپونو ویشل شویدي

a: دارام ژوند اوږدوالی

په ځینو تمورونو کې د پاملرنی وړ دژوند اوږودوالی شته اودهغی غوره مثال د ثدیی منتشر کانسر دی یعنی وروسته د Oophyorectomy او Adrenalectay څخه په درامتیک ډول دهډوکو دمیتاستاز ښه والی په وروستی پیړی کې د کانسر دتداوي دپرمختګ یوه لاره ده په ځینو تمورونو کې لکه دکولون اوتائیروئید په کانسر کې د پنځو

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کالو دژوند اوږدوالی هم غوره اقدام وي لیکن ځینی کانسرونه شته چی دهغی دپالیاتیف تداوي هیله ډیره کمه ده.

b: دپاسیف تداوي بل شکل دناروغ د عمومي اعراضو کموالی دی.

یعنی که چیری ناروغ نزف، درد، تپ، انیمیا اوداسی نور ولري دغه اعراض ټول وروسته د پالیاتیف تداوي څخه کموالی مومي او دایو عادلانه فیصله ده چې باید نوموړی تداوي اجراء شي.

c: ترټولو ګرانه پالیاتیف تداوي داعراضو وقایه او مخنیوی دی مثلا په پالیاتیف ډول د کولون قطع کول د کولون دکانسر دنزف او انسداد مخه نیولای شي.

۲- دناروغ عرضي او روحي ګډوډي ساتنه

ځینی داکتران د ناعلاج کانسر ناروغ ته وایي چې نور له دی زیات ستا ناروغی لپاره څه نشي کولای او ناروغ اودهغه فامیل دهغوی د شخصي لاربنوونی لپاره پریږدي. ځینی نور ناروغ ته پالیاتیف تداوي او ډاډګیرینه دواړه ورکولای شي اوداکار ناروغ روحي فشار څخه ساتلای شي.

۳- اضافي Comment :

a: په ساده ډول دجراحي او X-Ray اوکیموتراپي پواسطه دتمور حجم کموالی دناروغ سره مرسته کولای شي. لیکن که چیری د دغه تداوي لپاره کوم رښتینی او حقیقي چانس موجود نه وي باید د استعمال څخه یې ډډه وشي که چیری داکتر دتجربوي پروتوکول له مخی کوم ناروغ ته د تداوي ډاډګیرنه ورکړي چې هر څه ډاکتر په وس کې دی دساتنی لپاره ډډه نه کوي چی داکار د روحی ساتنی لپاره ښه اقدام دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Objective regression -b

داډول کلمه معمولاد پالتیف تداوي په سیر کې د کیموتراپي او رادیوتراپي څخه استعمالیږي اواکثرا داډول معنی لري چی دتمور په داخلي جسامت کې دنیمایي څخه کموالی راغلی وي او دا یو ډیر ګټور میتود دی ځکه مونږ کولای شو چی ددی له مخی موثره دوایي د نورو د ډلی څخه جدا کړو داخبره ضروري نه ده چې دتمور دکموالی سره سم د ناروغ په عمومي وضعیت کې بنه والی وګورو.

C: "Subjective Respons"

داډول کلمه په انکالوجي کې زیات داستعمال وړ ده مثلاً: ناروغ وایي (زه بنه یم) اویابنه معلومیږي داډول کلمات دناروغ د روحي فشار د ژغورنی لپاره بنه لاړ ده که څه هم په اصلي ناروغی کې کوم ربنتینی بدلون نه وي راغلی

V: هغه فکتورونه چی دناروغی انزار باندی اغیزه کوي:

ټول طبیبان باید یوځه ناځه په هغه عواملو باندی پوه شي کوم چې په انزارو باندی تاثیر لري لومړی باید ډاکتر د نومورې فکتورونو د پیژندګلوی قدرت ولري.

(دمثال په توګه مقدم تشخیص) ثانیاء داکتر باید دناروغی انزار وپیژني او دهغی له مخی خپله دوامداره تداوي ترتیب کړي او باید دناروغ د فامیل پاملرنه داوړدی مودی دپلانونو په ترتیبولو کې راوګرځول شي یا په یوه څرګنده موقع کې کیدای شي چی یو شمیر زیات فکتورونه دمریض د ژوند چانس دوه دری پلا زیات کړي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: دتمور او کوربه تر مینځ اړیکی (The Tumor and Host Relationship)

دیو تومور پټ خباثت ښایي چې دتمور په انزارو باندی دټولو څخه مهم تاثیر ولري او همدارنګه مونږ پوهیږو چې تقریبا د پانقراس، مری او د سږو ټول کانسرونه مرګ منځ ته راوړي او داد تشخیص څخه وروسته فوراء صورت نیسي که څه هم په ځینی مریضانو کې یو زیات شمیر Host فکتورونه وجود لري چی دتمورونو دپرمختګ مخه نیسي لاکن هغه وژونکی تمورونه چی دخباثت قوه یې زیاته ده اودناروغ دفاعي فکتور په مکمل ډول له منځه وړی او د تمور دانتشار لپاره زمینه برابروي او ډیر ژر ناروغ وژني Macdonald له خوا داد حیاتي مقدم خبریت Biological predetermines په نوم یادشوی دی.

د Fisher له خوا یوشمیر کوربه فکتورونه په حیواناتو کې مطالعه شویدي او شاید ددی جملی څخه ځینی فکتورونه په انساني پیښو کې هم اهمیت ولري.

B: مقدم تشخیص(Early Diagnosis)

دکانسر مقدم تشخیص یو عمده او مهم فکتور دی چی په انزارو باندی تاثیر لري چې د سروکس په کانسر کې مقدم تشخیص یو فیصله کوونکی غوره والی او اهمیت لري او مونږ داسی عقیده لرو چې دپراخو مقدمو تشخیصونو په اساس دنوموړي کانسر له کبله دمرګ دمینځ ته راتلو مخنیوی کولای شو (پاپ سمیر داستعمال پواسطه) دشیدی خوړلو او طفولیت په دوره کې دکانسر انزار د شیدی خوړونکی ماشوم دعمر سره سم مستقیم اړیکی لري او په همدې ترتیب دتمور د عمر سره هم چې یوځل بیا دلاندني نظر یې اهمیت روښانه کوي یعنی هرڅومره چې ژر تشخیص شي هغومره ښه والی لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکولون هغه کانسرونه چې د روتین سکموئید سکوپي پواسطه په Asymptomatic مرحله کې تشخیص شي دنورو متوسطو کانسرو څخه ښه انزار لري همدارنګه د ثدیو په کانسر کې دمقدم تشخیص پواسطه انزار یې هم ښۀ کیدای شي خو دایومشکل کار دی په یقیني ډول سره کوچنی تمورونه چی ورسره دتخرګ لمفاوي عقدات په محدوده پیمانه اویا هیڅ اخته شوي نه وي یقیناء ډیر ښه انزار لري په ځینو مراکزو کې ډاکتران داسی کوشش کوي چې دمقدم تشخیص اهمیت کم کړي داډول کوشش دکانسر دمتخصصینو له خوا دزیاتې شکمنی سبب کیږي نن ورځ دکانسر دمقدم تشخیص داهمیت ثبوت دټولو کانسرونو لپاره ګران کار دی.

C: دلمفاوي عقداتو اخته کیدل

دیو عمومي اصول په حیث دکانسر پواسطه دلمفاوي عقداتو اخته کیدل دمرض انزار ډیر خرابوي او اکثرا له هغه مریضانو په نسبت چی لمفاوي عقدات یې اخته شوی نه وي یو نیم ځله زیات خراب انزار لري اوددی حالت لپاره بندیز وجود لري یعنی که یواځی یوه لمفاوي عقده اخته شوی وي نودامرض نسبت هغه حالت ته ډیر ښه دی چی ټول لمفاوي عقدات یې اخته کړي وي.

D: دکانسر پراختیا

په عمومي توګه که دیوی عضوي کانسر هر څومره لوی وي په هماغه اندازه دمرض انزار خراب وي همدارنګه دکانسرتمور لوی والی دلمفاوي عقداتو داخته کیدو سره یو مثبت ارتباط لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

E: Venous invasion

که لوی وریدونه په ډیره زیاته پیمانه دکانسر دحملی لاندی راغلی وي نو په دی حالت کې دعضویت یوې لیری برخی ته دکانسر دمیتاستاز امکانات زیات وي که دوریدونو اخته کیدل دمایکروسکوپ پواسطه تشخیص شي نو داډول ناروغان نسبت هغه ناروغانو ته چی وریدونه یې اخته شوی نه وي یوه اندازه (۱/۵-۱/۱۰) خرابیږي. په زړه پوری خبره داده چی په محیطي دروانې وینه کې دژوندی تموري حجراتو شته والی دومره بد انزار نه لري څومره چی یو شخص فکر کولای شي.

هستالوژي

په عمومي توګه اناپلاستیک تمورونه ډیر خراب انزار لري او ښه تفریق شوي تومورونه نسبتا ښۀ انزار لري لاکن څرنګه چی په ډی لړکی یو شمیر استثناءت هم وجود لري نو له دې کبله په یوه ځانګړي پیښی کې ددې ادعا ثبوت ګران کار دی.

G: Age

یوزیات شمیر طبیبان داسی نظر لري چې هغه تومورونه چی په ځوانانو کې پیداکیږي خراب انزار لري اوکه هم داډول تومورونه په زړو خلکو کې پیداشي نو انزار یې ښه دي کیدای شي چی په دې خبره کې یوه کمه اندازه ریښتیاوالی هم وجود ولري لاکن باید په دې باندی ټینګار وشي مونږ باید دعمر داولني برخو تمورونه وژونکی (خبیث) اود وروستني عمر تومورونه دهغوی په نسبت سلیم ونه ګڼو.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

H: عمومي طبي عوامل

هغه خراب انزار چی د عمومي طبي پرابلمونو سره یوځای وي او په تالي ډول دنومورې پرابلمونو څخه دژوند دتوقع کموالی مینځ ته راځي نو په دی حالت کې مناسبه تداوي کیدای شي د مریض له خوا نبه تحمل نشي په کلینیک کې داسی شواهد وجود نه لري چې داډول عوامل دمرض انزار او همدارنګه دخباثت انزار تبدیل کړي.

I: دمریض نبه څارنه

ځینی مریضان چی کانسر یې عود کړی وي دشفاکیدو یوځه ناځه امید لري. علاوه پردی په هغو مریضانو کې چی اولنی کانسر یې مکمل تداوی شوی وي دیو دویم مقدم کانسر (خصوصا جلد ، کانسر اوکولون کې) منځ ته راتللو امکانات ډیر زیات دي نو له همدی کبله دکانسر مریضانو دنبی طبي ساتنی لپاره دهغوی په موثره توګه تعقیبول ډیر ضروري دي په داسی حال کې چی معمولا ددی خبری څخه غفلت کیږي یا په بل عبارت دی خبری ته توجه نه کیږي.

J: روحي او هیجاني عوامل

داځرګنده خبره ده که مریض دتجویز شوي تداوي څخه انکار وکړي نو انزار یی متاثریږي دناروغ دپاملرنی نشتوالی په کمه اندازه دډاکتر د غلطی پوری اړه لري که طبیب داسی عقیده ولري چی تجویز شوی تداوي یو Mutilation (قطع کول داعضاو) دی اویا دقبول وړ نه دی نو دا ډول طبیب مریضانو ته دداسی تداوي تجویز نه کوي هغه طبیبان چی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکانسر تداوي کوي باید یو مثبت برخورد ولري او که طبیب داسی خیال ولري چی تداوي به ښه نتیجه ورنه کړي که هغه دکامیابیدو ډیر کوښښ هم وکړي نو بیا هم د هغوی دکامیابیدو امکانات ډیر کم دي. او دتداوي په نشتوالي کې نه مونږ پوهیږو چی په طبعي ډول دمرض زیات پرمختګ په مرګ تمامیږي لاکن بیا هم ځینی احصائیه اخیستونکو علماو کې ځینی مقالی لیکلی دي چی داسی مفهوم ورکوي چی دځینی مرضونو تداوي او دمرض په انزارو باندی هیڅ اویا ډیر کم تاثیر اچولی دی او له دی کبله ځینی طبیبانو منفی طرزالعمل غوره کړی دی.

نوری کتنی

A: دهغه ډول مریضانو پرابلم چې میتاستاتیک کانسر لري لاکن دمقدم کانسر کومه واضح علامه نه لري د مقدم تشخیص څخه ړومبی باید داسی ناروغ ته وویل شي چی کومه خبره نشته او داکتر بایدد باوري معلومات دکانسر دابتدایي ځای دتشخیص لپاره راټول او بیا دمیتاستاز په هکله فکر وکړي مثلاء په ښځو کارسینوما دثدی، تائیروئید او لمفوما زیات عمومیت لري. که چیری دناروغ دمعاینی پواسطه دا کارسینوما تشخیص نه شي، داکتر خپل تداوي داسی پیل کوي چی عیناء همدا ډول کانسرونه موجود دي یعنی په ښځو کې د ثدی کانسر زیات عمومیت لري اویا نارینه و کې د پروستات او تائیروئید او لمفوما کانسر زیات دی که چیری لمفوما ونه پیژندل شي نو دپروستات کانسر خواته په نارینو کې زیات فکر کیږي.

B: په هغه محلاتو کې چی معقوله تداوي یو طبیب ونشي کولای دابهتره ده چی هغه پریږدي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال:

یوه زخه چی ظاهرا سلیمه ښکاري لاکن په حقیقت کې دادسلیم او خبیث ترمنځ قرار لري او کله کله تقرحي کیږي چی داکتر نوموړی زخه په محدود ډول یې لیری کوي او مریض ته داسی وایي چې دا دومره خطرناکه نه ده اویواځی په موضعي ډول قطع کول یې کفایت کوي ښایي د پتالوژي له نظره دا یو میلانوماوي داکتر داسی دلایل ورکوي چی نوموړی زخی مایکروسکوپیک څنډی لرلی. حال داچی هغه پوهیږي نوره تداوي یې اجراء کړي نه ده او کوشش کوي چې نوموړی وتیره ناروغ ته سلیمه معرفي کړي او ناروغ ته داسی ویلی دی چی دادومره خطر نه لري اوس چی دوه کاله وروسته ناروغ ته داسی ویلی ویلي دي چی دادومره خطر نه لري اوس چی دوه کاله وروسته ناروغ په یو داسی حالت کې مراجعه کوي چی یو زیات شمیر Recurrent په ډول په هغه ناحیه کې پیداشوی اودسړو میتاستاز علامی هم مینځ ته راغلی دي.

C: دمریض د تعقیب او تشخیص لپاره مهمی کتنی

۱- څارنه

زیات شمیر ناروغان په Recurrence صفحه کې ډیر د تداوي وړ دي او دیوزیات شمیر نورو مریضانو په ناروغی کې دکتنی وړ اندازه کمښت راتلای شي. باالاخره دایمي مقدم کانسرونه ډیر عمومیت لري او باید ژروپیژندل شي او تداوي شي اګر چی II جدول یوزیات شمیر مثالونه ورکوي لاکن باید هره پیښه په ځانګړي توګه معامله شي او په ډیر دقت سره هغه تومور چی د بیرته Recurrence امکانات یې ډیر زیات وي تعقیب شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- تشخیص کول یا اندازه کول:

دیو لړ پیښو تشخیص دلاندی دلایلو په اساس کیږي:

A: لپاره ددی چی دعرض دانزارو په باره کې مکمله لازښوونه لاسته راشي.

B: لپاره ددی چی وپوهیدل شي چی کوم ځای کې واقع کیږي.

C: دمختلفو سببي او عرضي تداوي ګانو د میتودونو دارزښت معلومولو لپاره.

D: دمرض دتداوي لپاره دیو چوکات جوړول.

E: دمرض په تنظیمولو دتیروتنی تجزیه کول او دهغی د اصلاح کولو لپاره اقدامات.

F: دا تیروتنی عبارت دې له (دتشخیص ،تداوي او داختلاطاتو غلطي)

G: دکانسر په پرمخ تللی مراحلو کې د تمور وده او پراختیا په هکله کافي معلومات لاسته راوړي.

H: کله کله د Etiologic اواپیدمیالوجیک معلوماتو دلاسته راوړلو لپاره باید هڅه وشي.

I : دخپلو نتایجو چی لاسته راوړي دی د نورو خلکو د نتایجو سره مقایسه کول.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتعقیبولو جدول

دکانسر موقعیت	دتعقیبولو وقفه	دکانسرو Recurrence معمولي ځایونه	صدري یا نور X-ray	هغه حالات چې درملنه په کې ممکن وي	دمرض دتخفیف امکانات	دویمي مقدم کانسرونه
۱- داخل فمي کارسنوما	باید هر ۲-۳ میاشتی باید تعقیب شي	موضعي رقبي لمفاوي عقدات	هر ۲-۱۲ میاشتی بعد اجراشي	موضعي Recurrence اودغاړی میتاستاز	X-ray او Methotraxate	سړی او مشانه
۲- ثدئی	باید هر ۲-۳ میاشتی باید تعقیب شي	دصدر، جدار، سړي، ځیګر او هډوکي	هر ۲ میاشتی پس اجراشي دهډوکو X-ray او Mamograme هر ۱-۲ کاله پس اجراشي	معمولا دجلدي Recurrence په حالاتوکي Anastomatic recurrence rarely local	X-ray کیموتراپي او Adrenalectomy	۱۰-۱۵ سلنه په مقابل کې
۳- سړي	هر ۳ میاشتی پس	سړي، ځیګر، هډوکي او ماغزه	هر ۲ میاشتی پس	Perineal recurrence solitary metastasis	۵-FU and other Agent نادرا نور عوامل	Very common
۴-کولون	هر ۳ میاشتی پس	سړي، ځیګر او پریتوان	باریوم اماله هر ۱-۲ کاله پس هر کال سګموئیدوسکوپي کول Digital او کل کله موضعي Quiac هر ۳ میاشتی پس ورکول او یوازی انفرادي میتاستازس			ډیر عمومیت لري

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشعاعي درملنی پرنسيپونه

۱- Prespective (تناظر)

دخبيښه ناروغيو په تداوي کې دهغه وخت ښه لاسته ته راوړنه چې تومور په بشپړ توګه ختم کړای شي او دشاوخوا نارمل انساجو په جوړښت اووظيفه کې کوم سوء شکل مينځ ته نه شي دکلينيک په عملي ساحه کی داسی په زړه پوری انتخابي تاثير کله کله لاسته راځي او د يو خطرناک مرګ بخښونکي تمور دمنځه وړلو لپاره که تر يوه حده پوری د هغوی دشاوخوا انساج دهميشه لپاره ويجاړ شي نو بايد داکتر ددی لپاره ځان اماده وساتي چی په دی توګه دنارمل انساجو د تخريبولو اندازه په مختلفو پيښو کې ډول ډول دي لاکن دژوندي نسج روغتيا بايد وساتل شي پورته ذکر شوي په زړه پوری اغيزه د تشعشع د انتخابي تاثير په نوم يادېږي دابايد يو عاجل ضرورت وي چې نوموړی نظريې ته تکامل ورکړی او په کلينيک کې دهغوی استعمال ته پراختيا ورکړو دا ځکه چی دتشعشع دخيړنی ساحه کې د علماو زياتره کوښښ همدا دی چی تشعشع نوره هم انتخابي جنبه غوره کړي او په زړه پوری حالت لاسته راوړي.

A: انتخابي تاثير

تشعشع په توليدي حجراتو باندی د يو انتخابي تخريب کوونکی تاثير په ذريعه عمل کوي نه د Cutery په څير. هغه يوشمير مختلف تکنيکونه چی دشعاع د تطبيق لپاره نن ورځ استعمال لري دخپل انتخابي تاثير لپاره په لاندی دری فکتورونو متکی دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- دخبیثو او نارمل انساجو د شعاعي حساسیت ترمنځ فرق، نه دخبیث او نارمل نسج ځانګړی شعاعی حساسیت، دتشعشع په انتخابي تاثیر کې مهم فکتور دی.

۲- دخبیثه حجراتو او نارمل حجراتو د دوبار وقایی د اندازو ترمنځ فرق. یعنی په توموري حجراتو کې د تشعشع تخریبي تاثیرات دومره زیات وي چی حجرات دمرګ سره مخامخ کیږي او په نارمل حجراتو کې دتشعشع مجموعي تخریبي تاثیر نسبتا کم وي نو ځکه نارمل حجرات د ژر بنه والی دخاصیت لرلو له کبله ژوندی پاتی کیږي.

۳- دتخریب څخه وروسته نارمل نسج دالتیام قدرت لیدل کیږي یعنی نارمل نسج د ندبی نسج پواسطه التیام مومي او دهغوی دګټی لپاره ندبی نسج تشکل کوي لاکن همدغه وتیره په توموري نسج کې صورت ونیسي نو دهغوی لپاره خطرناک ثابتیږي.

II : دتومور او انساجو شعاعي ټینګار

په رادیوتراپیوتیک کی دتومور غوره عکس العمل د تشعشع په مقابل کې یو ډیر ګران ستونزه جوړوي.

Various tumors in decreasing order of relative Radio sensitivity Based on Relatively direct tissue Effect (Hypoplasia)

Tumors	Relative Radio sensitivity	Tissue
Lymphoma, Leukemia, Seminoma, Dysgerinoma, Granulosa cell, Carcinoma	High	Lymphoid, Hematopoitic (Marrow), Spermatogenic, Epithelium, Ovarian cell follicular epithelium, interstinal epithelium
Squmous cell cancer of the oropharyngial, eosophagial, bladder, skin and cervical	Firly high	Oropharyngial stratified epithelium, epidermal epithelium, hair follicle

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

epithelium		epithelium, sebaceous gland epithelium, urinary bladder epithelium optic lens epithelium, gastric gland epithelium, urethral epithelium
Vascular and connective tissue elements of all tumors, secondary meovascular zation, astrocytomas	Medium	Ordinary interstitial connective tissue of, neurological tissue (connective tissue of the nervous system) fine vascular, growing cartilage or bone tissue
Adenocarcinoma of breast epithelia, Serous gland epithelium, salivary gland epithelium hepatic epithelium, renal epithelium pancreatic epithelium, Thyroid epithelium Colon Epithelium: Liposarcoma chondrosarcoma osteogenic sarcoma	Firly low	Mature cartilage of bone tissue, mucous or serous gland epithelium, salivary gland epithelium, sweat gland epithelium, nasopharyngeal simple epithelium, pulmonary epithelium, renal epithelium hepatic epithelium, thyroid epithelium, adrenal epithelium
Rhabdomyosarcoma, Liomyosarcoma, Ganglioneurefibresarcoma	Low	Muscle tissue, Neuronal tissue

دشعاعي حساسيت تر شعاعي مقاومت پوری تولە ساحه نه يواځی دهستوپتالوژي له نظره په مختلف ډوله تومورو کې ليدل کيږي بلکه په مختلف کوربه و کې عين خبيثه پروسه دليدنی وړ ده.

A: نظريه او چوکاټ

۱- دشعاعي حساسيت اصلي څرګندونی او تعريفات چې د کلينيکي او پتالوجيکي ځيړنو له مخی لاسته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د Methodology تجربوي پرمختګ هم شویدی په دی اوسني وختو کې په Invitro کې دکالوني دشمیرلو لپاره د Tissue culture دتکنیک استعمال او په Invitro کې د Cell induction شیمر استعمالولو سره د Tumor transplantation تکنیک دشعاعي عکس العمل داندازی دمعلومولو لپاره استعمال شویدی.

۳- دکلینیک له نظره دیو تومور شعاعي حساسیت دلاندني فکتورونو پواسطه اندازه کیږي.

A: دتشعشع په وخت کې دتومور د بیا پیداکیدل، یا غونجیدو چټکتیااواندازه.

B: دشعاع پواسطه دشفا کیدو اندازه تر ۵ کالو پوری اړه لري اګر چی د شعاع پواسطه ښه کیدل او شعاعي حساسیت یو په بل بدلیدای نشي.

شعاعي پتولوژي له نظره یو شعاع ته حساس تومور هغه دی چی په هغه کې د تشعشع پواسطه په حاد ډول حجرات له منځه تللی شي یا Hypo plasial منځ ته راتللی شي چې دازیاتره په مستقیم میخانیکیت دانساجو په سویه پوری اړه نیسي او لږه اندازه داوعیو او بین الخلالي نسجونو د ویجاړیدونکی تاثیر له امله وي. همدارنګه هغه تومورونه چی شعاع ته مقاوم دي دنومړو تومورونو د پرانشیم حجراتو په مقدم او حاد توګه د منځه وړلو اویا Atrophy لپاره لوړ دوزونو ته اړتیا پیښیږي.

۵- د یو شعاعي حساس تمور شعاعي کلینیکي تعریف په دې ډول دی چی عبارت دهغه تومور څخه دی چی دتشعشع په هغه دوزونو له منځه ځي کوم چی دشاوخوا جوړښتونو پواسطه په ښه توګه مینځ ته راتلای شي چی دا Microcirculation پواسطه ښکاره کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: دشعاعي حساسیت په اساس د تومورونو تصنیف بندي (لومړی جدول دی وکتل شي)

۱- دشعاعي حساسیت په اساس د تومورونو تصنیف بندي کول یا تومورونه ترتیب کول یو بی اصوله کار دی او په دی ډول ترتیب باندی ډیر ټینګار کول هم د نقایصو سره مخامخ کیږي.

۲- په پرله پسی ډول شعاع ورکولو لپاره Criteria په کلینیکي او پتالوجیکي منظرو باندی اتکاء لري کوم چې تومور دتداوي په مقابل کې دمشابه اویا په مختلفو دوزونو چی دشعاع پواسطه عکس العمل ورکوي.

۳- دشعاع په وړاندی دعکس العمل اندازه کولو لپاره د Microcirculation عکس العمل ډیر مهم فکتور دی په شعاعي حساس تومورو کې د پرانشیم تموري حجراتو محیط کوچنی کیږي اواوعیی یې ساتل کیږي چې په نتیجه کې یو Super vascularised تاثیر منځ ته راځي په شعاعي مقاوم تومور کې وعایي تخریب لمړی صورت نیسي چی په نتیجه کې دتموري حجراتو دمنځه تللو او ختمیدو لامل کیږي.

۴- دتومور عود دتمور د داخلي فکتورو دتداوي په وخت کې تغیرات، ددوباره نشوونما، میخانیکیت، دتموري حجراتو د بدلون خاصیت او د میزبان دمقاومت د بدلون پوری اړه لري.

C : دتشعشع په مقابل کې دتومور دعکس العمل اندازه کوونکی فکتورونه:

اګر چی عمومي کلینیکي لارښوونی داډول څرګندول په مختلفو سویو څارل کیږي خو بیا هم استثناء وجود لري او په یوه ځانګړی پیښه کې ریښتنی اټکل ستونزمن کار دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- دغانګړو انساجو منشاء

(لمړی جدول دی وکتل شي) دعضویت مختلف انساجو بدلون زغم اودشعاعي حاسیت مختلفی سویی لري ددی څخه داسی څرګندیږي چی دشعاع په مقابل کې د حساس انساجو څخه منځ ته راغلي تومور شعاعي حساسیت لري اودشعاع ته مقاوم انساجو څخه تولیدشوی تومورونه شعاعي مقاومت لری دعضویت انساج دشعاعي حساسیت له نظره چی کوم نسج دټولو نه حساس دی اوکوم نسج دټولو څخه زیات مقاوم دی د ۱-۲۰ پوری درجه بندي شویدی نو په دی ترتیب Hematopoitic Lympho poitic انساج او Gonads دعضویت د ټولو څخه زیات حساس اوپه داسی حال کې چی منضم نسج دټولو څخه زیات مقاوم دی.

۲- په حجروي سویه :

دحجراتو یو مخصوص Homogenous ګروپ دتشعشع پواسطه په ګراف کې یو تیپیک دحیاتي بقاء منحنی په ګراف کې رسمیږي دحجراتو په شعاعي حساسیت کې تغیرات په لاندی فکتورونو پورې اړه لري.

A: دحجراتو د Differentiation اندازه.

B: د Mitosis سرعت.

C: دحجری دانقسام دفعال حالت موده.

D: دانقسام قوت.

۳- په تحت الحجروي سویه:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحجراتو شعاعي حساسيت دهغوی دحياتي تحت الحجروي Targets سره اړيکی لري لکه د DNA مالیکول.

هستولوجيکل اوهستوکميکل تلويني تکنيکونه هغه فکتورونه څرګندوي کوم چی دتشعشع په وړاندی د حجراتو دحساسيت لازښوونه کوي DNA په مالیکول کې د P۳۲ اويا دايمي (Tirtiated) thymidin علاوه کول ښايي چې د نوي DNA مالیکولو دجوړښت چټکتيا د عکس العمل کولو په ذريعه دنوموړي حجری د شعاعي حساسيت Indense لاسته راځي.

۴- خارج الحجروي سويه :

شعاعي حساسيت دميحط سره سم غوره اړيکی لري دتشعشع په مقابل کې دعکس العمل د اندازه ګيري کولو لپاره د تومور بستر Vascularity او داکسيجن شتوالی ډير غوره فکتورونه دي.

D: دشعاعي عکس العمل اټکل کول.

۱- دتراپي څخه مخکی هستالوجيکي درجه بندي

A: د سرحدونو يا کنارونو تصنيف بندي

په عمومي ډول ويلی شو چې هرڅومره چی کارسينوما Anaplastic وي په همغه اندازه ښه شعاعي عکس العمل ښکاره کوي لاکن دلته يوڅو استثناءت وجود لري لاکن مهمه داده چی دابايد وپيژندل شي. چی ټول شعاعي حساس تومورونه د شعاع پواسطه درملنه کيدای نشي مثلاء Lympho sarcoma او همدارنګه بايد وويل شي چی ټول شعاعي مقاوم تومورونه د شعاع پواسطه دتداوي وړ نه دي مثلا د ژبی Carcinoma.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دامتحاني دوزونو څخه وروسته تولید شوی شعاعي پتالوژیک تغیرات:

a: درحم Cervix د کارسینوما تحلیل د Glucks mann پواسطه.

b: د خصیو او مثانی د تومور مطالعه د Ried mans پواسطه (

په پورته کلینیکي پیښو کې ذکر شوي مولفینو دشعاع دیو دوز (۱۰۰۰-۲۰۰۰ راده پوری) پواسطه د برخی د شعاعي حساسیت په باره کې اټکل کړیده دایوسټرې کوونکی کار دی امکان لري چی معاینه شوي برخه ښه ښکاره نسج نه وي اودامیتود ډیر استعمال شوی نه دی.

۳- Cytologic تستونه:

A: په Cervix کې د Cusbery ?A?B?T او SR

B: په Cervix کې د RR graham او TR حجرات

C: د Puck او Marcus دحجروي کلچر میتود

ددی جملی څخه یو تست هم په پراخه توګه نه استعمالیږي.

III: دخبیثه تمورونو Radio curability

A : فکتورونه

دشعاعي تراپي داقدرت چی یو زیات شمیر کلینیکي تومورونه په ځانګړي توګه تداوي کړي یو تثبیت شوی کلینیکي حقیقت دی د جذري جراحي تراپي په مقابل کې جذري شعاعي تراپي انتخابول دتراپیوتیک اندازی، دتومور اناتومیک پراختیا اودکوربه په حالت باندی ولاړ دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- دکوربه حالت

د درملنی په تاکلوکې د کوربه نور طبي پرابلمونه دتومور دخباثت سره یوځای وي رول لري دمثال په توګه په ډیر مسنو خلکو کې د مثانی د سرطان جراحي تداوي اکثراء مضاداستطباب وي ځکه چې په دې عمر خلکو کې د زړه ناروغی هم موجوده وي اوهمدارنګه شعاعي تراپي هم په ناروغ باندی فزیکي بارونه اچوي.

په شعاعي تراپي کې دطبیعي معافیتي فکتورونو رول هم تر بحث لاندی نیول شویدی لاکن فعلاء دکلینیک له نظره ددی اهمیت تثبیت شوی نه دی د مقدم تومورونو قوی تداوي د کوربه معافیتي میخانیکتونه فعالوي یا یې د ځان سره ملګری کوي چی د دویمي محراق هم د حملی لاندی ونیسي.

په تجربوي شکل هغه تومورونه چی تشعشع شویدي او دهغی نه وروسته په کوربه کې بیرته زرق شوي دی چی دهغی پواسطه د پاتی تمور شعاعي عکس العمل زیات شویدی.

۲- دتومور اناتومیک پراختیاء

دجذري میتود پواسطه دتداوي د اجراء کولولپاره ضروري دی چی دتومور دپراخوالي په اهمیت باندی پوه شو په تیرو کالو کې د جذري شعاعي تراپي حدود په ډیر صحیح توګه تعریف شویدي دشعاعي تراپي د ابتدایي او پرمخ تللي تومورونو (T۱او T۲ اوناحیوي لمفاوي عقداتو (NO او N۳) دتداوي لپاره استعمالیږي لیکن شعاعي تداوي دجراحي تداوي په مقابل کې د کوچنی کانسرونو او هغه تومورونو لپاره چی ناحیوي لمفاوي عقدات یې اخته کړی نه وی ډیر منل شوی درملنه ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- (TR) Therapeutic Ratio

دیونارمل نسج تحملی دوز Normal tissue tolerance dose او دتومور وژونکی دوز Tumor Deathly dose (T۲ D۱) ترمنځ اړیکی دیوتومور Therapeutic ratio معلوموي که نوموړی TR دیو واحد څخه زیات وي نو ښایي چی تومور په بریالی ډول له منځه لاړ شي او که دیوواحد څخه کم وي نو شعاعي تداوي په زړه پوری نه ثابتیږي.

A: دتومور وژونکی دوز (T D):

دهر ډول تومور لپاره یو ځانګړی دوزانتخاب کیدای شي چی دهغی پواسطه د نوموړي تومور یوه لویه برخه حجرات له منځه تلای شي.

B: نارمل نسجي تحملی دوز (NTTD):

دا عبارت دی دهغه دوز څخه چی که دمخصوصی اندازی څخه زیات شي نور غیر رجعي نسجي تخریب منځ ته راوړي اوداهم دنسج دډول او دهغوی دحساسیت داندازی سره فرق کوي کوم چی دتشعشع لاندی نیول کیږي دپورتنی بحث په اساس لاندنی فارمول لاس ته راځي.

$$TR = \frac{NTTD}{T\ \ D}$$

B : دخبیثه تومورونو تصنیف بندی دشعاعي معالجی له نظره (۱,۳,۵,۲) په عمومي توګه دری نور ګروپونه لاس ته راځي.

۱- دشعاعي درملنی وړ کانسرونه یا Neoplasm

۲- دشعاعي تداوي وړ کانسرونه یا Neoplasm

۳- شعاعي مقاوم کانسرونه یا Neoplasm

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشعاعي معالجی وړ نیوپلازم TR دواحد څخه زیات دی.

A: حساس تومورونه Sensitive tumor

۱- جنيني منشاء (Embrynol Origin)

۲- ریتیکولو اندوتیلیل

Hodgkin disease, Reticulum cell , Sarcoma, Lymphosarcoma, Ewing's او

دهډوکو Reticulum حجراتو Sarcoma

۳- Neurogenic

دادرینل دمخ Meduloblustoma, Retinoblastoma, Neuroblastoma

TR = ۱

B: په متوسطه اندازه تومورونه:

۱=TR لاکن اکثره د معالجی وړ دی.

۱- دپوستکي، شونډو، مقعد اود قضیب Squamous cell carcinoma

۲- دخولی دجوف اود Oropharynx

۳- داخلي حنجروي (محدود قامت لرونکي)

۴- درقبي او د پورتنی دوه پر دري رقبي مری.

۵- د Cervix او دمهبل

۶- دنخامیه غذی Transitional cell ګانی.

۷- دمثانی د Adenoma کارسینوما.

۸- دپروستات دغدی Adenocarcinoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- د Nasopharynx کانسر

دشعاعي تداوي وړ نیوپلازم

TR واحد ته مساوي اویا لږ کم وي.

په عمومي توګه داډول پرابلمونه د لمړنی حملی په وخت جراحي تداوي ته اړتیا لري په ډیرو واقعاتو کې د یو موثر ژوندی پاتي کیدو نتایجو د لاس ته راوړلو لپاره دجراحي تداوي سره یوځای تشعشع هم اجراکیږي همدارنګه په هغه حالاتو کې چی دعملیات قابلیت ونه لري یا حجرات پاتی شوی وي اویا مرض عود کړی وي شعاع ورکول هم رول لري.

۱- دثدتی کانسر Breast Cancer

۲- دسږو کانسر Lung Cancer

۳- درحم د Carpus کانسر

۴- دمبیض کانسر Ovarian cancer

۵- د Paranasal sinuses کانسر

۶- دلعابیه غدواتو کانسر

۷- د پښتورګو د حجراتو کانسر

۸- د Rectumکانسر

۹- Glioma ګانی

۱۰- دحنجری او حنجری بلعومي او پراخ کانسرونه

۱۱-دتایراید د غدی کانسر

۱۲- Chemo dectoma ګانی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخصیو غیر Seminomatous کانسرونه:

شعاعي مقاوم نیوپلازم:

TR دیو واحد څخه کم وي دا په بارز ډول جراحي پرابلمونه دي او په نادرو واقعاتو کې شعاعي تراپي ته ضرورت پیښیږي چی شعاعي تداوي درملنه هم اړینه وي.

۱- Osteogenic ستروما او Chondro sarcoma

۲- Fibro sarcoma او درخوه انساجو Sarcoma ګانی.

۳- Melanoma

۴- دمعدی، پانکراس او کولون Adeno carcinoma

دشعاعي تراپي ډول ډول موخی:

۱- معالجوي

A: یوشمیر افتونه چی اول ذکر شوي وي دهغوی جذري تشعشع دجذري جراحي په شان موثرتمامیږي.

B: دا باید وپیژندل شي چی دادواړه طریقی ضرري دي اویو مخصوص Morbidity مینځ ته راوړي.

C: په عمومي توګه که تراپي په مناسب ډول اجراء شي نو مریض د تراپي مکمل کورس تحمل کولای شي اویو زیات شمیر جانبي عوارض دختمیدو وروسته دیوڅو هفتو په منځ کې له منځه ځي او ځینی وروستی اغیزی لکه Scaring (دندبی نسج جوړیدل) بنایي چی دتداوي څخه وروسته په څو کالو کې راڅرګند شي.

